نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۵/۰۷/۱۱

# د طالبانو او حکومت د سولې مخامخ خبرې:
## رسمي کسان له نارسمي ادرسه

د طالبانو د قطر دفتر ویاند ډاکټر نعیم وردګ نن ټکی آسیا ته ویلي چې د اسلام آباد خبرو کې د طالبانو د سیاسي دفتر کوم غړي ګډون نه درلود
دا ډول نیویارک ټایمز هم د طالبانود قطرسیاسي دفتر د بریښنالیک په حواله لیکلي چې د اسلام آباد د سولې خبرو کې ګډونوال د مذاکراتو واک نه لري، دغه کسان د آی ایس آی له خوا یرغمل شوي، د سولې د بهیر د بنه والي پر ځای ستونزې زیاتوي.

**د سولې مذاکراتو کې طالب ګډونوال**

ویل کیږي د اسلام آباد خبرو کې د طالبانو د سیاسي کمیسون پخوانی مشر مولوی عبداللطیف منصور، حاجي ابراهیم د مولوي جلال الدین حقاني ورور او د طالبانو د وخت د صحت وزیر اوسمهال د طالبانود صحت کمیسون مشر ملاعباس آخند برخه درلوده.
مولوي عبداللطیف منصور او ملا عباس آخند د طالبانو په لیکو کې دوه پېژندل شوي نظامي او سیاسي څېرې دي، تر ډیره واک لري، د پریکړو وړتیا او صلاحیت لري. حاجي ابراهیم ته که د حقاني صاحب له خوا واک ورکول شوي وي سمه ده او که نه وي په تیر کې یې هم له افغان حکومت سره په بېلابېلو وختونو کې اړیکې لرلي وي.

**د طالبانو رسمي اعلامیه**

داځل د طالبانو د اعلامیې ډول تغیر موندلی، طالبانو د سولې د مذاکراتو یوه ورځ وروسته داسې اعلامیه خپره کړه چې د اسلام آباد د خبرو رد یې په واضیح ډول سره نه دی کړی، بلکه که ډیر ځیر شو، یو ډول یې دهمدې خبرو د طالب غړو د صلاحیت تاید کړی دی، ویلي یې دي چې طالبان د بنه پرمختګ او سمون له پاره وخت په وخت د چاراوکو په صلاحیتونو کې تغیر او بدلون راولي، د ټولو داخلي او خارجي چارو مسؤلیت سیاسي دفتر لري، سیاسي دفتر واک لري چې هرچیرته او هرځای له کورنیو او بهرنیو اړخونو سره مذاکرات وکړي
دا هم امکان لري چې طالبان به خپل غړي له لاسه ورکول نه غواړي، هغه کسان چې د افغان حکومت سره یې په خبرو کې ګډون کړي، د طالبانو د مشرتابه له اجازې پرته به یې دا کار کړي وي، لکه چې تیره میاشت یې د چین په اورمچي کې هم ناسته کړي وه، اوس به طالبانو هڅه کوي چې د وېش مخه ونیسي او په ارام سره دغه تر فشار لاندې طالب چاراوکي وپوهوي چې په دغه ډول ناستو کې له ګډون څخه ډډه وکړي، نو له همدې امله به یې په خپله رسمي اعلامیه کې نرمښت او تجاهل کړي وي، ولي د سیاسي کمیسون ویاند ډاکټر نعیم دغه خبرې رد کړي دي.

**د سولې مخامخ خبرې**

اسلام آباد ته نږدې د مري په ښایسته ښارګوټي کې د افغان حکومت او طالبانو مخامخ د سولې خبرې چې د جولای پر اومه نیټه ۲۰۱۵ یې خبر ورکول شو، لومړی ځل و چې ولسمشر غني د دغو مخامخ خبرو هرکلی وکړ، دا ځل سپیني ماڼۍ هم د طالبانو او افغان حکومت د خبرو هرکلی وکړ.
د پاکستان صدراعظم نواز شریف چې په ناروې کې و، ثبت شوی پیغام یې پاکستاني ټلویزون خپور کړ او ویلي یې و چې د حکومت او طالبانو تر منځ خبرې ښه پرمختګ دی.
په منظم ډول د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت د همدې سولې خبرو اړند پرته له جزیاتو ډیر لږ معلومات د رسنیو په واک کې ورکول.
د پاکستان د بهرنیو چارو وروستی اعلان کې راغلي چې د دواړو لورو استازو موافقه وکړه چې خبرو ته به دوام ورکوي او له روژې وروسته به بیا خبرې کوي.
ښکاري چې د سولې مذاکراتو په دغه دوه ساعته غونډه کې به هغو طالبانو چې د سیاسي کمیسون غړیتوب نه لري، ولي واک او صلاحیت به ورکول شوي وي د افغان حکومت استازو ته به یې خپل شرایط او غوښتنې مخامخ ویلي وي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له مودې راهیسې پر طالبانو بیلابیل فشارونه و چې خپل دریځ مخامخ افغان حکومت سره شریک کړي، تر ټولو زیات فشار د پاکستان هیواد و چې د دوی منځګړیتوب ومني او له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته کښیني، دا ډول د امریکا فشار داو چې طالبانو باید مخامخ طالبانو سره خبرو ته کښیني.
له دې سره سره هغه هیوادونه چې طالبانو سره یې د سولې اړوند په اړیکو کې پرمختګ درلود چې قطر، چین، ناروې، جاپان، ایران او ترکیه یادولای شو، د هغوی غوښتنه به هم داوه چې یوځل طالبان خپل ځینې شرایط افغان حکومت ته مخامخ وړاندې کړي، تر څو نړیوال او د سولې اړوند نیدخل هیوادونه پوه شي چې افغان حکومت د طالبانو شرایطو منلو ته چمتو دی که نه؟ او لوی موانع د سولې په مخ کې کوم دي.
هغو افغانانو چې له طالبانو سره یې په دوحه، ناروې او دوبۍ کې کتلي و، تر ډیره معلومیږي د هغوی غوښتنه هم داوه چې طالبان باید خپلې غوښتنې له افغان ولس او مخامخ افغان دولت او نړیوالو سره شریکې کړي.
داډول د طالبانو په لیکو کې هم ځینې داسې کسان و چې طالبانو څخه یې غوښتنه درلودله چې افغان حکومت ته مخامخ خپلې غوښتنې وړاندې کړي، او حکومت و ازمویې چې د طالبانو دې غوښتنې ته چې بهرنیان دې له افغانستان څخه ووځي کوم ډول ځواب ویلای شي.
که طالبانو افغان حکومت ته خپل پخوانې شرایط وړاندې کړي وي چې د بهرنیانو وتل، د طالب مشرانو نومونه له تورلسټ څخه ایستل، پر طالب مشرانو د اعلان شو جوایزو لغوه کول، د قطر دفتر په رسمیت پیژندل، د سولې له پاره رښتوني هڅې او یو داسې حکومت باندې هوکړه چې ټولو افغانانو ته د منلو وړ وي.
په کور دننه د حکومت خپلمنځې اختلافاتو ته په کتلو سره ښکاري چې دغه ډول د طالبانو غوښتنې به د افغان حکومت تر واک پورته وي، او افغان حکومت به ونه شي کولای چې د طالبانو غوښتنو ته مثبت ځواب وویې.
داچې داخل د سولې خبرو کې د امریکا او چین استازو ګډون درلود، یوه ښه پرمختګ دي، موږ ډیر ځله ویلي چې د سولې د خبرو د پرمختګ ضمانت دې لوی هیوادونه وکړي، اوس به معلوم شي چې د طالبانو غوښتنو ته به افغان حکومت او امریکا څه ډول ځواب ووایي.
د سولې د دغه تازه مذاکراتو څخه د پخواني ولسمشر کرزي مشروط ملاتړ هم رسنیو را اخستی دی.
**طالبان په خپله خوښه که د فشار او مجبوریت له مخې خبرو ته کیناستل.**
پوښتنه داده که طالبان پرته له فشار څخه د زړه له کومې خبرو ته حاضر شوي وي، پاکستان هم پکې مثبت رول لوبولی وي، بیا په کار وه چې اسلام آباد کې د سولې مذاکراتو ته د طالبانو د سیاسي دفتر (قطر دفتر) ځینې غړي راغلي وای، په خبرو کې یې مخامخ برخه اخستې وای، ځکه طالبانو څو په وارو وارو ویلي چې د سولې مذاکراتو واک او صلاحیت یوازې د دوی د سیاسی کمیسون (قطر دفتر) سره دی.
که چیرته پاکستان د طالب مشرانو په خوښه مذاکراتو ته زمینه برابره کړي وي، په کار ده چې طالبان د سولې مذاکراتو کې خپل ګډون ومني، واضیح داخبره دوی نه ده منلي، دغسې یو ګونګ او مجهول حالت تشویشونه نور هم زیاتوی، په داسې حال کې چې په اوس وخت کې هر څه ډیر ژر روښانه کیږي، رسنی او سرچینې دومره زیاتې دي چې خبرې پټې نه پاتې کیږي، خو د اسلام آباد خبرې لا هم ګونګې دي.
د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ مذاکراتو اړوند سرچینې ګرده پاکستانی رسنی دي، هر څه د پاکستاني چینلونو څخه راوځي، افغان حکومت، طالبان، امریکا او چین په دې اړه وضاحت نه کوي.
د دغسې مهمو ناستو او غونډو اړوند چې پوره ۱۴ کلونه وروسته افغان حکو مت او طالبان د سولې مخامخ خبرو ته کیني په کار وه چې ابتدایي کارونه یې د نړیوالو او یا خو سیمییزو اصولو مطابق سرته رسیدلي وای، ولي دومره ژر هرڅه په عجله د یو تفریح په ډول تر سره شول، هغه هم د مرۍ په تفریحي ښارګوټي کې.
په کار وه چې افغان حکومت، طالبانو دا ډول د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت د مخامخ مذاکراتو اړوند اعلامیې د یو بل د باور په موخه خپرې کړې وای، د سفرونو دقیق نیټه مخکې له مخکې اعلان شوې وای، د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت یې رسمي کوربه توب اعلان کړی وای، لکه چې تیره میاشت د ناروې هیواد د بهرنیو چارو وزارت د طالبانو رسمي کوربه توب کاو.
د دغسې مخامخ خبرو له پاره دا اړینه وه چې ایران، سعودي عربستان، قطر، امارات، ترکیه، هند، د منځنی آسیا هیوادونه او حتی روسیه په اعتماد کې واخستل شي.
ښکاري چې یوازې استخباراتي لوبه ده، پاکستان غواړي چې افغان حکومت او نړیوال وغولوي، پر طالبانو به یې فشار راوړی وی، چې هسې یو عادی ناسته دې ځینې ټیټ پوړي طالبان له افغان حکومت سره وکړي.

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**آیا پاکستان د سولې اړوند خبرو کې رښتونی دی؟**
که پاکستان د سولې خبرو کې رښتوني وي بیا نو ویلای شو چې د اسلام آباد د سولې لنډ او پخ مذاکرات یو ښه پرمختګ دی، ولې که د پاکستان هڅه یواځې داوې چې افغان حکومت او نړیوالو ته وښیي چې طالبان خبرو ته کینولی شي او له طالبانو سره په پټه توافق شوی وي چې درانه شرطونه د سولې مذاکراتو کې وړاندې کړي هغه چې د افغان حکومت له واکه نه کیږي، بیا نو ویلای شو چې دا به هم د پاکستان د تیرې یوې لسیزې د سولې اړوند مذاکراتو د تګلارې برخه او نوې بڼه وي.
په اسلام آباد کې د جولای د اومې مذاکراتو څخه به پاکستان ډیره ګټه پورته کړي، اوس به اړ نه وي چې افغان حکومت ته د طالبانو د سولې میز ته راکښ کولو کې سپیناوی وکړي، عملاً یې داکار وکړ، زیان به یې ډیر زیات طالبانو ته ورسیږي، هغوی چې هر وخت یې د پاکستان په منځګړیتوب له افغان حکومت سره د خبرو کولو رد او ډډه کوله.
**طالبانو د سولې د مخامخ خبرو چمتوالی نیوی**
زه باوري یم طالبان د سولې خبرې کوي، ولې د هغوی د مشر ملامحمد عمر مجاهد اجازې ته ګوري، تر اوسه هغه ورته د افغان حکومت سره د مخامخ خبرو کولو اجازه نه ده کړې، بیا څه ډول باور وکړو چې د اسلام آباد ناسته به د طالبانو په خوښه د افغان حکومت سره د سولې مذاکرات و؟
کله که د طالبانو مشر ملامحمد عمر د طالبانو سیاسي کمیسون ته د افغان حکومت سره د مخامخ خبرو اجازه وکړي، بیا به د طالبانو سیاسي کمیسون اړ وي چې د سولې د مذاکراتو اړوند یو واضیح او روښانه میکانزم او تګلاره ولري.
افغان ولس به د افغان حکومت سره د سولې مذاکراتو باندې هغه وخت باور ولري چې د طالبانو د سیاسي کمیسون (قطر دفتر) غړې د سولې مذاکراتو کې مخامخ ګډون ولري، دا خبره طالبانو نږدې په خپله هر اعلامیه کې کړې چې د خبرو واک د طالبانو له سیاسي کمیسون سره دی، کله چې د خبرو جریان او مذاکرات د سیاسي دفتر له خوا رسماً رد کیږي، بیا هم شک دی چې د اسلام آباد خبرو کې چل او فریب نه وي.
موږ پر دې هم پوهیږو او په خپلو لیکنو، ټلویزوني او راډیوي بحثونو او مرکو کې مو ولې چې د دوحې (پګواش غونډه)، د ناروې او دوبی ناستې په کرار کرار بالاخره د طالبانو او افغان حکومت تر منځ مخامخ خبرو ته لاره هواروي، او یو وخت به دغه دواړه لورې مخامخ خبرو ته کیني .
زما د معلوماتو له مخې طالبانو غوښتل چې نوی افغان حکومت سره خبرې وکړي، د امریکا سره امنیتي تړون او د پاکستان مداخلت دغه پروسه دادی نږدې ۹ میاشتې ځنډنی کړه.
حکمت کرزي د طالبانو د قطر دفتر له استازو سره د اشرف غني د حکومت له جوړیدو مخکې هم لیدنه کړې وه، د هغوی سره یې شناخت پیداشوی و، د حشمت کرزي د مرګ اړوند یې د طالبانو سره خبرې کړې وې، کوم چې طالبانو یې بیا وروسته وختونو کې د ده د ورور په مرګ کې لاس لرل رد کړي و.
دا ډول حکمت کرزي د ناروې کانفرانس کې هم ګډون درلود، په دغسې نړیوالو کانفرانسونو کې ډیر ځله زمینه برابریږي چې شکېل اړخونه یوبل سره وګوري، د دې امکان نه شي رد کیدای چې حکمت کرزي به د طالبانو له پلاوي سره په ناروې کې کتلې وي، او د سولې اړوند به یې ځیني غیر رسمي خبرې کړې وي.
داځل چې د نورو لوړ پوړو افغان چارواکو پر ځای حکمت کرزي د سولې اړوند مذاکراتو کې ګډون وکړ، دوه لاملونه به یې و، لومړی داچې د قطر دفتر کسان پیژني، وګورئ چې طالب ګډونوال استازیتوب کولای شي که نه، آیا په غونډه کې طالب ګډونوال د قطر دفتر غړې دي که نه؟
بل داچې د طالبانو د ټیټې کچې کسانو په ناسته کې ګډون درلود، افغان حکومت هم نسبتا د ټیټې کچې کسان غونډې ته واستول.
موږ هیله لرو چې د طالبانو سیاسي کمیسون او افغان حکومت ټولې د سولې اړوند پټې خبرې په خپل وخت سره د افغان ولس سره شریکې کړي، او دواړه لورې هڅه وکړي چې د استخباراتي جګړې قرباني نه شي، بلکه سولې ته د رسیدو له پاره اساسي لارو چارو باندې غور او فکر وکړي.
طالبانو هڅه کوله چې په نږدې کال یو نیم کال کې د سولې مخامخ خبرو ته زمینه برابره شي، لومړی د خلکو او طالب جنګیالیو ذهنونه د مخامخ خبرو له پاره اماده او بیا مستقیم د سولې مذاکرات له افغان حکومت سره پیل شي.
پاکستان له وخت نه په ګټې اخستو بیره وکړه د طالبانو دغه پلان یې بیا له خنډ او ځنډ سره مخ کړ، دا ډول افغان حکو مت هم پر خپلو لوړ پوړو کسانو بې باوره شوې وه هغوی چې په پټه او ښکاره یې له طالبانو سره اړیکې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

نیولي او ناستي یي کولي، همدا لامل به و چي دومره په بیړه او ناسنجیده مخامخ ناسته پرته له مقدمي د پاکستان په وساطت اسلام آباد کي په بیړني او غیرتخنیکي ډول جوړه شوه.
د معلوماتو له مخي د پاکستان او طالبانو د قطر دفتر د غړو ترمنځ فاصله ورځ په ورځ مخ په زیاتیدو ده، په ټوله کي پر طالبانو د پاکستان فشار ډیری طالبان له پاکستان څخه ایستلو او لیري کولو ته اړ کړي، ویل کیږي طالبانو پاکستان ته ویلي چي نور به د پاکستان په خاوره کي پاتي نه وي، له دي هیواده به وځي، او اړ نه دي چي د پاکستان فشار او خبره ومني

**افغان حکومت باید د سولي اړوند د حکومت دننه خپلمنځي ستونزي حل کړي**

په کار ده چي افغان حکومت په کور دننه د سولي اړوند خپلمنځي ستونزي د پخواني ولسمشر کرزي له ډلي، اجرایوي رئیس عبدالله په ټوله کي د شمال ټلوالي،د اجرایوي رئیس له معاون محقق او د ولسمشر لومړي مرستیال دوستم سره حل او د سولي اړوند د بیلابیلو نظرونو پرځای یو روښانه تګلاره او یو نظر ولري.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ